# رَغِمَ أَنْفُ، ثُمَّ رَغِمَ أَنْفُ، ثُمَّ رَغِمَ أَنْفُ»، قِيلَ: مَنْ؟ يَا رَسُولَ اللهِ قَالَ: «مَنْ أَدْرَكَ أَبَوَيْهِ عِنْدَ الْكِبَرِ، أَحَدَهُمَا أَوْ كِلَيْهِمَا فَلَمْ يَدْخُلِ الْجَنَّةَ». «د هغه چا پوزه دې خړه شي بيا دې پوزه خړه پړه شي بيا دې پوزه خړه پړه شي» وويل شو: څوک؟ اې د الله رسوله! ويې ويل: «څوک چې په زوړوالي کې مور او پلار دواړه او يا يو له دوی څخه لاندې کړي او بيا هم جنت ته داخل نه شي

له ابوهريره رضي الله عنه څخه روايت دی چې رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايلي: «رَغِمَ أَنْفُ، ثُمَّ رَغِمَ أَنْفُ، ثُمَّ رَغِمَ أَنْفُ»، قِيلَ: مَنْ؟ يَا رَسُولَ اللهِ قَالَ: «مَنْ أَدْرَكَ أَبَوَيْهِ عِنْدَ الْكِبَرِ، أَحَدَهُمَا أَوْ كِلَيْهِمَا فَلَمْ يَدْخُلِ الْجَنَّةَ». «د هغه چا پوزه دې خړه شي بيا دې پوزه خړه پړه شي بيا دې پوزه خړه پړه شي» وويل شو: څوک؟ اې د الله رسوله! ويې ويل: «څوک چې په زوړوالي کې مور او پلار دواړه او يا يو له دوی څخه لاندې کړي او بيا هم جنت ته داخل نه شي».

[صحيح] [مسلم روايت کړی دی]

رسول الله صلى الله عليه وسلم په ذلت او خوار د اخته کېدو ښېرا وکړه تر دې چې لکه خپله پوزه يې چې په خاورو ککړه کړي وي - او دا کار يې درې ځلې تکرار کړ - نو پوښتنه ترې وشوه چې: دا څوک دی اې د الله رسوله ؟ چې ښېرا مو ورته وکړې؟ نو رسول الله صلى الله عليه وسلم وفرمايل: چا چې مور او پلار دواړه او يا يو له دوی څخه په بوډاوالي کې لاندې کړل او جنت ته د داخلېدول سبب يې نه شول؛ ځکه چې نيکي يې ورسره نه کوله او د دوی نافرماني يې کوله.

https://sunnah.global/hadeeth/ps/show/3718

النجاة الخيرية
ALNAJAT CHARITY
لجنة الدعوة الإلكترونية
EDC E-Da'wah Committee